The Asia Foundation

# مطبوعاتي اعلاميه

*د خپراوي نيټه: د ۱۳۸۸ د لړم پنځمه (د ۲۰۰۹ د اکتوبر ۲۷) د سهار ۸:۳۰ په کابل*


**د رسنيو د اړيکو مرجع:**

په سانفرانسيسکو کې: امي اووال

بريښنا ليک: aovalle@asiafound.org

تليفون: 415.743.3340- ۱+

په کابل کی: فضل ربی وردګ

بريښنا ليک: fwardak@asiafound.org

تليفون: 0093(0)799-384-665


## د ايشيا فونډيشن لخوا د افغانستان د ۲۰۰۹م کال د نظر پوښتنې د پايلو اعلان

*د امنيت، بيا ودانولو او حکومتدارۍ په اړه د هيواد د ۳۴ ولايتونو د خلکو د نظرونو ښکارندويه*

**کابل او سانفرانسيسکو– د 1388 د لړم پنځمه (د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر۲۷مه)** – نن ايشيا فونډيشن په افغانستان کې د خپلې نظرپوښتنې پايلې چې د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې تر سره شوې، خپره کړه. "*افغانستان په ۲۰۰۹کال کې: د افغانستان د خلکو سروې*" پنځمه سروی ده چې د ايشيا فونډيشن په واسطه په افغانستان کې سرته رسيږی. د يادونې وړ ده چې دغه دفتر پخوا په ۲۰۰۴، ۲۰۰۶، ۲۰۰۷او ۲۰۰۸ کلونو کی هم عامه نظر پوښتنې تر سره کړي دي. پنځه واړه سروي ګاني په ټوليزه توګه په ټول هيواد کې د عامه افکارو د سنجونې کره او اوږدمهالې وسيله ده چې کولای شي د هيواد د وضعيت او تګ لوري د ارزونې لپاره ګټور واقع شي. د دغې سروی سيمه ايز کار د ۱۳۸۸کال د غبرګولي له ۲۷مې د چنګاښ تر ۱۵مه پوری تر سره شو. په دې سروې کې له ۶۴۰۶ تنو افغانانو سره چې په رانډم يا ناټاکلې (تصادفي) توګه ټاکل شوي وو مرکې وشوې. نوموړي افغانان اتلس کلن يا تر هغې زيات عمر لرونکي، ښځې او نارينه له بيلابيلو ټولنيزو، اقتصادي او قومي ټولنو او له ښارونو او کليوالي سيمو څخه وو.

تاسو کولای شی د افغانستان د ۲۰۰۹م کال بشپړه سروې د www.asiafoundation.org له ويبپاڼې څخه تر لاسه کړئ.

سروې شويو کسانو په لومړي سر کې بې امني، تاوتريخوالی او ترهګري او تر هغو وروسته بيکاري، اقتصادي کمزورتيا او فساد د هيواد د تر ټولو سترو ستونزو په توګه په ګوته کړل. همدارنګه، د دې سروې موندنې ښيي چې ۴۲ سلنه افغانان فکر کوي چې هيواد په سم لوري روان دئ (په پرتله دې ۳۸٪ په ۲۰۰۸ کې، ۴۲٪ په ۲۰۰۷ کې، ۴۴٪ په ۲۰۰۶ کې، او ۶۴٪ په ۲۰۰۴ کې)؛ په داسې حال کې چې ۲۹ سلنه يې فکر کوي چې هيواد په ناسم لوري روان دی (۳۲٪ په ۲۰۰۸ کې، ۲۴٪ په ۲۰۰۷ کې، ۲۱٪ په ۲۰۰۶ کې، او ۱۱٪ په ۲۰۰۴ کې). پاتې ۲۱ سلنه ګډ افکار لري (۲۳٪ په ۲۰۰۸ کې، ۲۵٪ په ۲۰۰۷ کې، ۲۹٪ په ۲۰۰۶ کې او ۸٪ په ۲۰۰۴ کې). (د يادونې وړ ده چې د ۲۰۰۴م کال په نظر پوښتنه کې يواځې ۸۰۴ تنه افغانان سروې شول؛ په داسې حال کې چې تر هغې وروسته په هره يوه سروې کې له ۶۰۰۰ زيات کسان سروې شوي دي.)

د 2009 م کال نظر پوښتنه چې د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالی پرمختیایي اداری له خوا تمویل شوې، د ایشیا فونډیشن له خوا طرح، اداره او تصحیح شوه. ټولې مرکې د ۶۴۸ تنه ښځینه او نارینه مرکچیانو په واسطه چې د افغانانو د ټولنیز اقتصاد او نظریو د پلټنې د اداری (ACSOR) استخدام شوي وو ترسره شوې. ورته سروي ګاني به په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو کې هم ترسره شي.

**په افغانستان کې د ایشیا فونډیشن په هکله**

د ۲۰۰۲ م کال د فبرورۍ په میاشت کې د ایشیا فونډیشین د کابل دفتر ددې لپاره بیا پرانستل شو تر څو هغه پروګرامونه په لار واچوي چې د طالبانو د حکومت نه وروسته د افغانستان د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او پوهنیز پرمختګ لپاره ضروري وو. د ۲۰۰۲ کال نه را په دیخوا، د ایشیا فونډیشن د کابل دفتر له افغانانو سره د موقت حکومت په جوړولو، د اساسي قانون په جوړولو، د ټول هیواد د رایې ورکوونکو په نوم لیکنه، مدني پوهاوي، د رسنیو د څارنې او د ۲۰۰۴م کال د جمهوري ریاست او د ۲۰۰۵م کال د ملي شورا او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو په پلانولو کې د تخنیکي مرستو په ترڅ کې، له افغانانو سره د هغوی د هیواد د بیاوداونولو په هڅو کې مرستې کړې. له دغو ټولټاکنو نه وروسته، ایشیا فونډیشن د حکومت د اجرایي څانګې له مرکزي مهمو بنسټونو سره اوږد مهاله او ارزښتناکه مرستې کوي. د ایشیا فونډیشن نور پروګرامونه د ښځو او انجونو لپاره د پوهنې او روزنې، د لوړو زده کړو د پرمختګ او د نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا لپاره د فکري مبادلاتو په پراختیا متمرکزي دي.

**د ایشیا فونډیشن په هکله**

ایشیا فونډیشن یو نا دولتي او غیر انتفاعي اداره ده چې د آرامه او سوکاله، پیاوړې، د عدل نه ډکې آسیا او اوقیانوسیې سیمې منځ ته راوړو ته ژمنه ده. ایشیا فونډیشن په آسیا کې د قوانینو او حاکمیت د ځواکمنولو، اقتصادی اصلاحاتو او پراختیا، د ښځو د ځواکمنولو او نړۍ واله اړیکو په برخه کې مرستی کوی. د خپلې تر ۵۰ کلونو زیاتې تجربې په رڼا کې، ایشیا فونډیشن په آسیا کې د دولتي او شخصي همکارانو سره د رهبری یا مشری، د تاسیساتو په جوړونه، د افکارو او وړتیاوو د تبادلې او د کړنلارو په هکله د پلټنو په برخو کې په ګډه کار کوی.

ایشیا فونډیشن په ټوله آسیا کې متعدد سیمه ییز دفترونه لری چې سر بیره پر هغو یو دفتر یې په واشنګټن ډي- سي او مرکزي دفتر یې د امریکا په سانفرانسسکو کې دی د کومو له لاری چې ایشیا فونډیشن په سیمه ایزه او ملي کچه د چارو پالنه کوی. ایشیا فونډیشن په ۲۰۰۸ کال کې له ۸۷ میلیونو امریکایي ډالرو نه زیاته بسپنه د پروګرامونو په برخه کې برابره کړې او همدارنګه یې د یوځلویښت میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت تر یو ملیونه زیات کتابونه او درسي مواد په ټوله آسیا کې ویشلي دي.

مهرباني وکړئ د لا زیاتو معلوماتو لپاره د www.asiafoundation.org وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ.

###